ولي الله ملکزی ۲۰۱۹/۰۵/۱۲

# په هديره کې ځما ميشتې مورې!

خوږې مورې! ځما دنياګۍ ډيره وړه او په هغې کې داسي ژبه نشته چې ستا د مينې لمانځنه او ستاينه پرې وشي
نيازبينې مورې! ځما په بدن کې داسي سترګې نشته چې ستا له ښکلا پورته، د ښلې ښکلا ننداره پرې وشي
نازولې مورې! ته هغه هستي يې چې جنتونه ستا له قدمونو لاندی دي
قدرمنې مورې !ستا يادونه تل تازه او خاطرې دې تر ټولو خوږې دي
پتمنې مورې ! ته د نهيليو په توږې تررمى کې، ځما د رڼا ځلى او ځما د زماني غږ يې
درنې مورې! ته د هر بچي د اسرې او ارزوګانو داسى يو سيند يې چې هيڅکله نه وچيږې
خوږې مورې! ستا زړه، تر ټولو زړونو نرم او ته تر ټولو مخلوقاتو، مهربانه خلقت يې
د زړه په تل کې مورې! د درد او ژړلو په مهال تر ټوله غوره ځاى، ستا غيږه ده
پياوړې مورې! ته په هر مصيبت کی ډاډګيرنه او د هرې کمزورتيا په وخت پياوړتيا يې
عزتمنې مورې! ته هغه هنداره يې چې د نورو ميندو په شان دی، ماته هم خپل رنګ رابښلی
ګرانې مورې! دا چې ته د زړه سوي سمبول، د سربښندنې ځلى او د مينې مظهر يى، نو د اسماني اديانو او صحيفو په ګډون، انساني تاريخ پخپلو ټولو پخوانيو او معاصرو پاڼو کې ستا د حق او تقدس په هکله دومره سپارښتنه هيڅکله هم نده ليدلې، څومره چې په قرانکريم او د پيغمبر (ص) په حديثونو کې ستا يادونه شويده
د زړه په تل کې ميشتې مورې! ستا د مهرباني غيږې پخاطر، ستا د نيمې شپې د شوګيرو له مخې او ستا د الله هو، للوللو له وجې، ستا رب، ستا د قدر او ارزونې په وياړ د الاسراء په ۲۳ آيت کې داسی حکم کړی: ستا رب پريکړه کړې چې پرته له ده نه د بل هيڅ چا عبادت مه کوئ او له مور او پلار سره ښه چال چلند کوئ. که له هغوئ نه يو، يا دواړه زړښت ته ورسيږي نو د اوف غوندې وړه خبره هم ورته مه وايه، دوئ مه رټې او خورا نرمي او مهربانه خبرې ورسره کوئ
په قبر کې پرتې مورې! کله چې د اسلام ستر پيغمبر خپل هغه صحابي ته چې بوډۍ مور يې په اوږو کښينولې او له کعبې څخه يې وربادی د طواف کولو وروسته پوښتنه وکړه چې يا رسول الله، آيا ما د خپلې مور حق ادا کړ، کنه؟ نو مورې پوهيږې چې ستا پيغمبر ورته په ځواب کې څه وويل؟ نه، تا د خپلې مور د هغه درد يوه برخه حق هم ندی اداء کړی کله چې ته يې زيږولې
مورې! تا به حتما اوريدلې وو چې يونيم زرکاله وړاندې يوې غزا ته د تيارۍ په مهال، يو صحابي حضرت پيغمبر (ص) ته راغی او ورڅخه يې اجازه وغوښته چې غواړم له تا سره جهاد ته ولاړشم. نو پوهيږې چې هغه (ص) ورته څه وويل: آيا مور لرې؟ ځوان ځواب ورکړ چې هو. بيا رسول الله ورته وويل: ورځه د هغې خدمت وکړه، ځکه د هغې د پښو لاندی جنت دی.
مورې! نن د مې دولسمه او نړۍ والو دا ورځ ، ستا د ورځې په نوم نوملې ده. نن د دې بې تنابه مځکې په لر او بر کې ستا مقام ته د درناوي پخاطر غونډې جوړيږي، ستا په نوم کارتونه انځوريږي، ستا په عنوان پوستې ټکټونه چاپيږي او ستا په خير ميندو ته مډالونه، ډالی کيږي. شاعران دی د شعر په ژبه او ليکوالان دی د قلم په څوکه ستايي. خو لدې ټولو ها خوا، ستا په ټوکر ټوکر هيواد کې ستا يتيم شوي او بې اسرې بچيان، تا پخپلو سلګيو او ترمو اوښکو سره لمانځي
مورې! ستا ځينې هيوادوال وايي چې د مور د ورځې لمانځل بدعت دی او نادوده. دا د غرب تحفه ده، دا بې لاريتوب دی او ګمراهي ده. خو همدا غربيان په کال کې يوه ورځ لږ تر لږه د انسانيت په نوم، د بشري عاطفې له مخې او د فطرت په حکم، د سرو ګلانو په ګېډيو سره د خپلو ميندو د ورځې لمانځنه کوي.
مورې! ستا د هيواد هر بچي منې چې يوه مورهم جګړه ماره نده، ولی بياهم هره مور، د هرې جګړې قرباني ده. ستا د وطن دا تورمخي جګړه ماران د کال په هره ورځ کې، ګړی په ګړی او ګام په ګام، د مذهب په نوم خپلې ميندې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ژړوي. د دوئ ځیري ګریوانونه په اوښکو لندوي او د دوئ د سترګو په وړاندی، د دوئ د بچیانو په مرئ چاړه ږدي، د تکبیر ناره وایي او د کرکې په تیره توره یی حلالوي.
خو صابرو میندو! یوه ورځ به حتما د دی کور ړنګې جګړې متره وچه، د پردیو دا ټوپکونه له اوږو کوز، د ورور وژنې دا ماشې ماتې او بالاخره د ژړیدلو میندو د نهیلیو دا ژمی به هم تیر شي، خو د نبي د دروغجنو وارثانو دا سکاره مخونه به همداسی تور پاتې شي.
مورې! زه خپل ځان نیکمرغه بولم چی عزرائیل دی د کټ په سر ولاړ او ما ته دی په ټلیفون کی وویل: زویه زه درڅخه راضي یم، بده ورځ ونه ګورې. مګر بد نصیبي می داده چي ستا د جنازې کټ له می اوږه ورنکړه او ستا د قبر په سپیرو خاورو می یو څو څاڅکی اوښکې توئ نه شوې. خو په هغه رب قسم چی تا ته یی د مورولۍ مقام درکړی، زه دی په هره سجده کی لمانځم او د اصلي منزل په لور ستا د مزل د اسانۍ غوښتنه کوم او د مور پدی ورځ، په غریو نیولي اواز درته غږ کوم چی: ځما رنځیدلې او کړیدلې مورې! په هدیره کې ځما میشتې موری! ځما د تورو خاورو لاندی نازولی مورې! دغه ورځ دی تا او د نړۍ پر مخ هرې مور ته مبارکه وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ